




# د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغانی » ليکنه

د بيا نشر نيټه : 2 جون 2024 ميلادی

# اسلام د ادب او د اخلاقو دين دی

څومره چه د اسلام د مقدس دين پر متعلق د نويو علومو د انکشاف توجه او ښتې هغو مره دا حقيقت روښانه شوی دی چه اسلام ښه د اداب او د اخلاقو د تربيې دين دی او په دغه مقدس دين کښی د ټولو طبقاتو حقوقو د تامين د پاره محفوظ ساتل شوي دي او يو تربله د متقابل احترام ساتلو او ښه سکوک د پاره ډير پاخه او قوي اساسونه لري .

په دغه دين کښی د اقربا وسره د صلې او علاقې باريک رمزونه شته او د دوستانو او آشنايانو سره د مينې په لياره د ګډو اهدافو منځ ته راوستلو د پاره په کښني قوي راز موجود دی.

اسلام د عمومي اوضاعو او د عامو خلکو سره د ښه ژوند کولو قوي خيال ساتلی دی او د يو مکمل ادبي او اخلاقي ژوند د برابرولو د پاره په کښی پاخه اساسونه شته دي، کوم ادب او اخلاق چه د اسلام په مقدس دين کښی په ټول کم او کيف سره د خلکو د خير او سعادت د پاره ليدل کيږی ، په دی اندازه په بل هيڅ کوم دين کښی په لاس نه راځي .

د پلار او د مور د حقوقو لحاظ ساتل ، د مشرانو احترام ، دلويانو قدر او تعظيم، وررور سره صله او عاطفه ، د ملګرو سره صداقت ، د همسايه ګانو سره ښه سلوک او ګذاره ، د عاجزانو سره مرسته او تعاون، د مصيبت او تکليف په وخت لاس ورکول ، د خوراک او څښاک نورو حياتي مسايلو کښی اعتدال ، عمومي حقوقو د تقويی د پاره توجه او دا او داسی نور اداب او اخلاق د اسلام پر مقدس دين کښی هيڅ کله خپل ادبي او اخلاقي اعتبار دلاسه نشی ورکولی .

په اسلام کښی د نفرت ، عداوت ، کينی او حسد ټولی ريښی ايستل شوی دي او دين د محبت او همکاری د تامينولو د پاره پوره پوره توجه کړی ده .

اسلام د کبر او غرور سره مجادله کړی ده او له دغی لیاری ښخه غواړي چه خلک د ورور ولی او برابری په فضا کی ژوند وکړي.
په اسلام کی د عفوی او گذشت او د بیا بیا پیوندلو د پاره لیار ښونه او تشویق شوی دی او د دی لیاری ښخه غواړی چی اجتماعي شیرازه باید قوي وساتله شي .

په اسلام کښی د خبرو او وینا د پاره حدود معلوم شوی دی او د ژبی د اصلاح کولو د پاره پوره توجه شوی.

د اسلام مقدس دین د علم او پوهنی د پاره عمومي توجه اړولی ده او د عقل او دلیل د لیاری ښخه غواړی چه خلک خپل ژوند نه ښه استفاده وکړي .

اسلام کوشش کړی دی چه د خلکو مدني ، اقتصادي ، سیاسي ، ثقافتي ، ادبي او اخلاقي ژوند په داسی پایو اتکا و لری چه هغه د انسان اصلي د طبیعت او استعداد سره برابر او د عمومي مصالحو د تامین د پاره مفید واقع شي .

اسلام د وهم ، وسواس او بی مورده گمانونو طرفدارنه دی ؛ او د پوره دقت پرلیاره کی غواړی چه حقایق روښانه او د خلکو حیاتی مشکلات لری شي .

اسلام د عفت ، تقوی، پاکی او نظافت طرفدار دی ؛ غواړی چه د خلکو ژوند په ظاهر او باطن کی پاک او سوچه وي.

اسلام د اسراف او تجاوز طرفدار نه دی ؛ غواړی چه خلک دی باید په هر ښه کښی د اعتدال لحاظ قوي وساتي.

اسلام د غدر او خیانت سره مجادله کړی ده ؛ غواړی چی خلک دی یو تر بله د تکالیف او مشقت موجب ونه گرځي .

نو په دی اساس که ځوک د اسلام مقدس دین تر پوره عمیقی مطالعی لاندی را ولي ، د ادب او اخلاقو کامل او مکمل دی. او د هغه ښخه په استفادی سره د ننیو علومو په اساس د حقیقي او واقعي ژوند برابرولو لیاره پوره ارزښت لري.

راځی چه مونږ د اسلام د دین د ادبو او اخلاقو ښخه ځان پوره واقف کړو؛ تر ځو وکړی شو د ځان او د خلکو د سعادت په لیاره کښی ، د ښوخدمتونو مصدر وگرځو.

و من الله التوفیق

سعید افغاني
کابل ـ ۱۳۵۵ هجري شمسي ـ کال

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی »

www.said-afghani.org ـ بازگشت به صفحه اصلی